بسم الله الرحمن الرحيم

# حزب التحریر د خلافت غوښتنې له مفکورې سره د اسلام پر دښمنانو د وېرې لړزه راوستې!

**خبر:**

«پوتینېزم: روسیه او له لویدیځ سره یې راتلونکی» د وولټر لاکویر په نوم یو یهودي لیکوال کتاب دی چې ډاکټر فواز زعرور عربي ته ژباړلی او په ۲۰۱٦م کال کې د بیروت دارالکتب عربي خپرندویې ټولنې خپور کړی.

اد دغه کتاب په ۱۲۴_۱۲۵، ۱۲۹، ۱۹۷ مخونو کې درې ځله د حزب التحریر او خلافت یادونه شوې؛ حزب یې د بنسټپالو ډلو په کتار کې راوړی او تندلاری یې بللی. په وروستۍ موضوع کې ویلي: «په منځنۍ اسیا کې تر ټولو فعال تندلاری خوځښت حزب التحریر دی؛ دا یو اسلامي سیاسي سازمان دی چې په ۱۹۵۰ لسیزه کې په قدس کې رامنځته شو او د یوه ځواکمن اسلامي دولت (خلافت) د جوړولو هوډ لري. اوسمهال دغه خوځښت د عربي هېوادونو په ګډون په نړدې ټولو هېوادونو کې منع دی. خو د منځنۍ اسیا په ځینو هېوادونو، لکه قرغزستان کې یې امکانات باید له پامه ونه غورځول شي.»

**تبصره:**

څنګه چې ستر قدرتونه د تېرې پېړۍ په پیل کې د خلافت په ړنګولو وتوانېدل او وېرېدل چې اسلامي دولت (خلافت) به بیا را راشي. نو د مسلمانانو خاورې یې په ملي دولتونو ووېشلې؛ په کمزورو او تابع دولتونو یې بدلې کړې او خپل اجنټان یې پرې حاکمان کړل. د یوه واحد دولت تر چتر لاندې د مسلمانانو د خاورو یوځای کېدو د او د مسلمانانو د یووالي د مخنیوي لپاره یې وغوښتل چې یو ځل بیا د خلافت او خلافت د بیا راپورته کېدو مفکوره د مسلمانانو له ذهنونو پاکه کړي؛ داسې چې دا مفکوره د تاریخ یوه برخه ده او بیا راژوندی کول یې ناشوني دي.

د تېرې پېړۍ په ۵۰مه لسیزه کې د خلافت مفکورې د تبني کوونکي، شیخ تقي الدین نبهاني رحمه الله لخوا د حزب التحریر له رامنځته کېدو راهیسې او د خلافت د بیا تاسیس لپاره د اسلامي امت له هڅو سره دغو دولتونو د حزب او د حزب د فعالیتونو ګواښ درک کړ چې ډېر ژر به اسلامي خلافت هغه څه له منځه

یوسي، چې دوی له څو لسیزو راهیسې کار ورته کړی او زیار یې ګاللی؛ اسلامي خاورې به د دوی له نفوذه پاکې کړي او دوی به ژر په ډیر ذلت له اسلامي خاورو وشړي.

نو د خلافت له مفکورې د دوی وېره او حساسیت خورا زیات دی؛ دا فکر چې هر ځای او به هره ژبه وي، ترې وېرېږي. دا د خلافت له فکر څخه د غربي هېوادونو د وېرې او حساسیت یوه بېلګه ده. له پنځوسمو کلونو راهیسې چې د خلافت مفکوره له حزب التحریر سره تړل شوې، هغوی له دغه نوم سره حساس شوي دي؛ ځکه دغه حزب د خلافت مفکوره تبني کړې او د تاسیس لپاره یې هڅې کوي.

دوی چې له څه وېرېږي او ورسره حساس دي؛ که خدای کول ژر به هماغه کېږي. ځکه دا د الله سبحانه وتعالی وعده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری دی چې مسلمانان به راشده خلافت ته رسوي. نو د خلافت تاسیس د حزب التحریر نه ستړی کیدونکی کار دی او الله سبحانه وتعالی د مومنو بندګانو ملاتړی او نصرت کوونکی دی؛ ډېر ژر به ظالمان پوه شي چې دوی کومې خوا ته روان دي.

**لیکوال: خلیفه محمد**

**۲۰۲۳م کال د ډسمبر ۱۷مه**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال د جمادی الثاني ۴مه**